له فزيکي فشارونو تر عقيدوي تحميل او انځوريز سانسور؛
د سپټمبر له ۱۰مې د اکټوبر تر ۱۰مې د رسنيز وضعيت مياشتنی تحليلي راپور

د سپټمبر له ۱۰مې د اکټوبر تر ۱۰مې پورې، د افغان رسنيو پر وړاندې د فشارونو، ناقانونه مداخلو او پر عکسونو د بندیزونو بڼه بدله شوې ده. طالبانو اوس د عادي خبرونو د سانسور پر ځای د درپیو جلا موخو هڅه پیل کړې ده: د طالباني حاکمیت په ګټه تبلیغاتو ته د خبریالانو مجبورول، د غونډو له عکس او ویډیو اخیستلو بشپړ مخنیوی او له رسنیو څخه د سیاسي او استخباراتي موخو لپاره کارول.

په دغه مياشتنۍ دوره کې د مخکښیو مياشتو پرتله د مستقیم فزیکي تاوتریخوالي پیښې لږ څه کمې لیدل کېږي، خو پر ځای یې قانوني ابهامونه، له ځواکه استفاده، مفکورهیي فشارونه او انځوریز سانسور پراخ او منظم بڼه غوره کړې ده.

۱. جیوپولیټیکي فشارونه او د رسنیو له بې‌طرفۍ سرغړونه (ختیځ زون)
په ننګرهار، کونړ، لغمان او نورستان ولایتونو کې د طالب سیمه‌ییزو چارواکو له لوري د رسنیو له کارکوونکو او خپلواکو خبریالانو غوښتل شوي چې له ګاونډي پاکستان سره د شته ترینګلتیاوو پر مهال بې‌طرفي تر پښو لاندې کړي او مستقیم د دغې ډلې په ملاتړ او د نوموړي هېواد پر ضد پاروونکې لیکنې او نظرونه خپاره کړي.
• تحلیلي پایله: پر خبریالانو دغه‌ډول فرمایشي او سیاسي موضوعات تحمیلول، د افغان خبریالۍ مسلکي بې‌طرفي په بشپړ ډول ننګوي او خبریالان له سختو مالي، مسلکي او افکارو-ترسره‌کوونکو بحرانونو سره مخامخ کوي.

۲. پوځي ګواښونه او رسنۍ د نظامي وسیلې په توګه کارونه (بدخشان)
په بدخشان ولایت کې د طالبانو د عمر ثالث ۲۱۹ فرقې مرستیال، غلام‌الله احمدي د دفتري ویاندویانو او خبریالانو په ګډه ناسته کې په ښکاره او بربنډ ډول خبرداری ورکړی چې د دغې ډلې د مخالفانو ځپل یوازې د جګړې تر ډګر پورې محدود نه دي.

• تحلیلي پایله: د طالب پوځي چارواکو استدلال کړی چې رسنۍ باید په «نرمه جګړه» کې د حکومتي لیکو کرښه خپله کړي. په نظامي لحن رسنیو ته د داسې ګواښونو استول، خبریالان د جنګي طرفونو برخه‌وال معرفي او د هغوی ژوند له شدیدو جدي ځاني ګواښونو سره مخامخ کوي.

۳. فکري جلب او جذب او ائډیالوژیک روزنیز پروګرامونه
د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري په مرکز او تر دې دمه شاوخوا ۱۶ ولایتونو کې د خبریالانو او رسنیو د مسؤلانو لپاره د «فکري او عقیدوي ظرفیت لوړونې» په نوم

تحمیلي سیمینارونو دائرول دوام لري.

- تحلیلي پایله: د دې ښوونیزو پروګرامونو عمده موخه د مسلکي ژورنالېزم پر ځای د واکمنو د ائډیالوژۍ او غوښتنو منلو ته د خبریالانو او خبري خونو هڅول دي چې خپلواکې رسنۍ په غیرمستقیم ډول د طالبانو پر غږیزو وسایلو بدلې شي.

۴. د انځوریزې ازادۍ بشپړ سانسور او ابلاغیې (سویلي زون)

په سویلي حوزه کې عکس او ویډیو اخیستلو ته لوړ جدي خنډونه رامنځته شوي چې تر ټولو مهم ټکي یې په لاندې ډول دي:

- په کندهار کې د عکس پر اخیستلو تعقیب او بندیز: دسپټمبر پر ۸مه یو خبریال د غازي امان الله خان (شهیدانو) چوک کې د عکس اخیستلو په پلمه د طالبانو د امر بالمعروف محتسبینو له خوا توقیف سپارښتنو وروسته خوشې شو. د همدې میاشتې پر ۲۳مه د کندهار په سوداګرۍ خونه کې د رسمي ناستې له ختمېدو وروسته امر بالمعروف طالب محتسبینو ټول خبریالان پر سختو الفاظو تهدید او له کمرو او عکس کارونې یې منع کړل.

- رسمي فرمان/مکتوب: د اکټوبر پر ۴مه د کندهار د امر بالمعروف ریاست له خوا ټولو ولایتي ادارو ته رسمي مکتوب صادر شو چې له مخې یې په هېڅ ډول خبري ناستو او لیدنو کې خبریالانو ته د انځور یا ویډیو اخیستلو اجازه نه ورکول کېږي.
- د تاریخي او سیاسي موضوعاتو پر سر توقیف او بد چلن (پکتیا)

د خبریال نیول او فزیکي تاوتریخوالی: په پکتیا ولایت کې د پخواني ولسمشر ډاکټر نجیب‌الله په اړه د یوه سیمه‌ییز خبریال د ځانګړې څرګندونې پر مهال، نوموړی د سیمه ییزو طالب استخباراتو له خوا د یوې ورځې لپاره توقیف شوی دی. د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO) له رسنیو او خبریالانو سره د اړیکو کمپټې د معلوماتو له‌مخې، یاد خبریال په توقیف کې له فزیکي وهلو او ټکولو سره مخامخ شوی او له لادرکه کېدو او اعتراف اخیستلو وروسته تر اوسه د داسې موضوعاتو د مخنیوي لپاره خطي ژمنه اخیستل شوې ده.

تحلیلي پایله: دا پېښه ثابتوي چې حاکم ځواک نه یوازې د هېواد د ورځنیو سیاسي او پوځي خبرونو انحصار غواړي، بلکې د تاریخي تحلیلي نظریاتو او نظري اظهاراتو پرمهال هم له خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو سره د تاوتریخوالي او تعذیب له لارې د ځانسانسورۍ روحیه ډبروي.

- پر راډیوګانو فشارونه (هلمند، زابل او ارزګان): په هلمند کې (د سپټمبر ۱۸مه) او زابل کې (د سپټمبر له ۲۷مې د اکټوبر تر ۲مه) د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور چارواکو د ځایي راډیوګانو پر نشراتي محتوا د څارنې په لړ کې مسؤلینو ته سپارښتنه کړې چې له اصولو

سره سم او یوازې د نظام په ګټه نشرات وکړي.
• لفظي سپکاوی او بد چلن (زابل): د اکتوبر پر ۲مه په زابل کې د طالبانو د عامې روغتیا رئیس له یوې سیمه‌ییزې رسنۍ سره د مرکې پرمهال له خبریال سره لفظي سپکاوی او ترخه رویه کړې ده.

۵. عدم همکاري او په اطلاعاتو کې انحصار (معلوماتي توپیریزه برخه)
په ختیځ ولایتونو (ننګرهار، کونړ، لغمان، نورستان) کې طالب سیمه‌ییز چارواکي او ویاندویان لومړی لاس تازه اطلاعات خپلواکو او سیمه‌ییزو رسنیو ته نه ورکوي، بلکې دا معلومات لومړی خپلو امارتي او ترویجاتي شبکو ته استوي او یوازې هغه مهال یې له ازادو رسنیو سره شریکوي چې موضوع خپره او خپله ګټه په کې خوندي شوې وي.
• د ستونزې نه حل کول: خبریالانو څو څو ځلې دا ستونزه له ولایتي مسؤلانو سره شریکه کړې، خو د پام وړ حل پر ځای یوازې لنډمهالې بې‌عمله ژمنې ورکړل شوې دي.
• له خبري ترجیحاتو ناوړه استفاده: کله چې خصوصي رسنۍ د خپلو تخنیکي یا خبري لوائح له مخې نه‌شي کولای د حاکمانو کم‌ارزښته ناستې او سفرونه تر پوښښ لاندې راولي، ولایتي مسؤلان یې غبرګون کې د مهمو او حیاتي اطلاعاتو له ورکړې ډډه کوي.

۶. تحلیلي پایله او سپارښتنې
۱- د فزیکي زغم پر ځای د افکارو او تصویریزو برخو بندیز: د دې میاشتې معطیات ثابتوي چې که څه هم فزیکي نیونې د تېرو میاشتو پرتله کمې شوي، خو د مکتوبونو، رسمي بندیزونو او د عکس/ویډیو د مخنیوي له لارې بنیادي انځوریز ژورنالیزم شاوخوا فلج شوی دی.

۲- له مسلکي اصولو او معیارونو انحراف: د طالب چارواکو له خوا خبریالان جیوپولیټیکي، پوځي او نظریاتي مسائلو کې اړ ایستل کېږي چې دا د افغان ژورنالېزم خوندیتوب او مسلکي بې‌طرفي جدي له ګوابښ سره مخامخ کوي.

له رسنیو او خبریالانو سره د اړیکو کمیټه
د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO)